ابراهیم نعیمي
4/8/2011

# دمډالوویشل کوم تول اوترازولري؟

په افغانستان کې مډال ورکول او مډال اخیستل په یوه عنعنه اوښتې ده. د ببرک کارمل تروااکمنۍ مخکې مې په کوم کتاب کې لوستي نه دی چې مډالونه په دغسې پریمانه ډول ویشل شوی وي. نه پوهیږم چې د انګریزي ښکیلاک په زمانه کې هم دهغوی دلاس ناستو لخوا دمډالونو ورکولو د غومره پریماني ول که یا ؟

هو! مخکې په هیوادکې مډالونه ول ولې په لویه کچه هغو افغانانوته ورکول کیدل چې د خپل هیواد لپاره به یې په دندوکې وړتیاښودل. د مډالونو نومونه او ډولونه یې هم په مختلفو واکمنیوکې مختلف ول. ولې زه په دی لیکنه کې د مډالونو ویشل د پخوانې شوروي اتحاد دیرغل څخه ترنن ورځي پوری په نظرکې نیسم:

کله چې په (۱۹۷۹زکال) کې سرو لښکرو د افغانستان پرخاوره نامردانه یرغل وکړچې په نتیجه کې یې ببرک کارمل د واک پرګدی کښیناوه. ددغه وخت څخه ډیره پاملرنه د مډالونو ویشلوته واوښته. هرځل به چې ببرک کارمل شوروی اتحادته سفرکاوه، د مډال یا مډالونو ورکول د شوروي اتحاد مشرانوته یومکلفیت ګڼل کیده. زمانه یادیږی چې ببرک کارمل داسې سفرکړی وي چې د ډیروقیمتي سوغاتونو ترڅنګ به د لیوند ایلیچ برژنف (دشوروی اتحاد د وخت د کمونیست ګوند عمومي منشی) پرځیګرمډال نه وی ټومبلی. په هغه زمانه کې هم د مډالونو نومونه بیل وه د بلیګې په توګه دلمرنښان ...

په هره غونډه کې دلته یاهلته به ارزونه وشول چې د ښمنان ځپل شوی دی او نور د خلکوپه منځ کې ځانونه پټوی او غلچکې بریدونه کوي. د داسې غونډو پایله به داشول چې په یوشمیرافغاني فوځیانو او شوروی فوځیانو به مډالونه او نښانونه کله کله د نقدي تحسین ناموسره یوځای وویشل شول. زمانه یادیږی چې د افغاني او هم شوروي لوړپوړو چارواکو په غونډوکې منلی وی چې موږ د ماتې او ناکامۍ په حال کې یو. خبره یوه وه چې کله نا کله به ببرک کارمل په ډیره ټینګه لهجه ویل: (اشرارابن دشمنان وطن و اسقلال تلاش مذبوحانه دارد که حملات ناجوانمردانه را بالای مردم بې دفاع کشور ازدیادبخشد. به صدای رسابه پاکستان هوشدارمیدهم که حملات تروریستی که به همکاری شبکه های جاسوسي پاکستان درتباني باشبکه جاسوسی **سیا** تنظیم میګردد ، عزم راسخ مردم ازاده ماراتغیرداده نه میتواند...)

د ښاغلي حامد کرزي د واکمنۍ دوره په پرتلیز ډول همهغه دشوریانو د اشغال دورې ته ورته ده. دا ځل هغه پخوانې (دهغه زمان په اصطلاح اشرار او د استقلال دښمنان) جګړه مارمډالونه ترلاسه کوی ځکه چې د دوی په اصطلاح (ترهګر) یې ځپلي دی ځکه ترهګر بیګناه انسانان وژنې. ښوونځی، روغتیایې مرکزونه، سړکونه او نور عامه شتمنې ورانوي. سره د دی چې همدا اوسني واکدارانوعیني کار کاوه ولې دوی ځان په حق ګڼې ځکه د شوروي یانې بیګانه هیواد په مقابل جنګیدل. زه نه پوهیږم چې د طالبانو ګناه به داوی چې ولې د لویدیزو په مقابل کې جګړه کوی؟

ولسمشرحامد کرزي له یوی خواهیواد اشغال بولې او دړندو بمباریو څخه شکایت کوی خو د بلې خوا د هربهرنې پوځې لوړپوړی چې دنده پای ته رسیږي د غازي امان الله خان یا غازي وزیراکبر خان مډال یې پرسینه ورټومبي.

زه نه پوهیږم چې زه سربداله یم او که اوسني واکداران لیوني سوی دی؟

زه به څوبیلګې وړاندي کړم. هیله ده چې تاسو لوستونکي مي وپوهوی چې څوک لیونۍ دي؟

ـ څه موده مخکې د کندهار دمحبس څخه څه دپاسه (۵۰۰) تنه زنداني طالبان په تیښته بریالي شول. دولت د دی پرځای چې د کندهار رهبری او په ځانګړي ډول امنیتي مشرانوته سزاورکړی مډالونه یې ورکړل .

ـ په نژدی وختونوکې د انترکانتیننټال، د لغمان په فرقه کې، د وزارت دفاع په ودانۍ کې چې ډیرخلک یې «پنتاګون بولي» د جنرال داود، د تخارد ولایت امنیه قوماندان او جرمنی جنرال، د ولسمشرورور احمد ولي کرزي، جان محمد د ولسمشر باوري مشاور، د ولسي جرګې غړی محمدهاشم وطنوال، د کندهار دامنیه قوماندان جنرال خان محمد، د کنړپه ولایت کې د بیګناه ماشومانو او خلکو بمبارول او په سلګونو نورې خونړي پیښي شوی دي.

او ورسره د ولسمشر شکایتونو د لویدیزو هیوادونو او د امریکایي پوځونو څخه د افغانانو او نړیوالو غوږونه کاڼه کړي دي.

خو د امریکایې جنرال پیټریویس د دندې دپای ته رسیدو په ورځ همدغه ولسمشرکرزي د هغه په ستاینه نه ستړی کیدی اومډال یې هم پرسینه وروټومبۍ .

د ببرک کارمل او د ولسمشرکرزي د واکمنیو ترمنځ دوه غټ توپیره ترسترګو کیږي:

ـ ببرک کارمل په نره ویل چې د شورویانو د نه موجودیت په صورت کې به افغانستان دنړۍ د نقشې څخه لیری شوی وای. دوی یې د سولې ساتونکی ګڼل. د دوی هره نارواکړنه یې مجاز او روا ګڼل. په ښکاره یې ځان د هغوی ګوډاکۍ ګڼی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ ولسمشرحامد کرزي د اسقلال ناريِ او سوريِ وهي، هيواد مستقل او ځان د ولسونو منتخب جمهورريس ګڼي. داسې لاهم وايي چې که تاسو د ايا هغه څه ونه کړی نوخلک به د اشغالګرو په سترګو درته وګورئ. زه نه پوهيږم چې ښاغلی حامد کرزی څه ته اشغال وايي؟
که په ښکاره اطاعت وکړي، ستاينه يې وکړي، مډالونه يې پرسينو وټومبي او ځان يې ګوډاګی وګڼي نوهيڅوک ګيله نه ورڅخه کوي.
مګر ولس به يوه ګيله ورنه وکړی: زموږ دغازيانو هډونه بايد ونه پلوري.
ـ غازي وزير محمداکبرخان د انګريز سفيرمکناټن د هغه د ګستاخی په وجه په توپانچه وويشت او ويې واژه او ورسره يې د انګريز فوځونو(۱۷۰۰۰) کسان تباه کړه.
ـ غازي امان الله خان دهيواد سياسي استقلال د همدغو انګريزي ښکيلاکګرو څخه د افغان ولسونو په مرسته واخيست.
زه فکرکوم چې هروجدان به تکان وخوري چې د دغو اتلانو د نومونو مډالونه دانګريزي او امريکايي جنرالانو پرسينو ځوړنديږي. دا په حقيقت کې د هغوی دهډونو پلورل دی.
اوسني واکداران که غواړي چې د ولسونو د نيوکو او قهرڅخه ځان وژغوري نوزه ورته يو وړانديزلرم:
ـ د هيواد واکداران کولای شی چې په خپلو او ياهم د دوی په اصطلاح د جهادي قوماندانانو په نومونو چې د کابل ښاريي وران او ښاريان يې مړستونونوته ولېږل، مډالونه جوړکړي او خپل هم ټولګيانوته يې ډالی کړي. د بيلګي په توګه د احمدشاه مسعود، مزاری، جنرال خان محمد، جنرال دادود، عبدالرسول سياف، برهان الدين رباني، جنرال دوستم ...
ـ په دغه کار به هم د جهادي قوماندانانو حقوق ورکړل شي، ولسونه به هم نه خوابدی کيږي، انګريزي او امريکايي جنرالان به هم ډيرخوشحاله شي ځکه دا کسان د دوی کاسه څټونکي ول.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ